**بسم الله الرحمن الرحيم**




**مصعب ابن عمير او طلب النصرة**

**د جهاد پوښتنه:**

السلام عليكم

بخښنه غواړم، د مصعب ابن عمير د طلب النصرې په تړاو څه ثبوت شته، هغه مهال چې يوازې يې په مدينه کې دعوت مخ ته وړی؟ هيله لرم چې قانع کوونکی ځواب ترلاسه کړم.

**د عطيه جبرين پوښتنه:**

زموږ امير او شيخ ابو ياسين!

اسلام عليكم ورحمة الله و بركاته

د طلب النصرې د موضوع په اړه د يوې پوښتنې په ځواب کې راغلي دي (هغه څوک چې برى ځنډوي او يا يې پرېږدي) او (... يا دا چې ايا د طلب النصرې په برخه کې مصعب ابن عمير تر رسول الله صلى الله عليه وسلم زياته هڅه کوله؟ او همدارنگه راغلي دي چې (... رسول الله صلى الله عليه و سلم په لس گونو ځله د طلب النصرې غوښتنه وکړه، خو مثبت ځواب يې ترلاسه نه کړ، په داسې حال کې چې ده صلى الله عليه وسلم خپل رسالت په ډېره غوره طريقه مخ ته وړی... خو مصعب رضي الله عنه مثبت ځواب ترلاسه کړ...)

شیخ صاحب! ته کولی شې موږ ته هغه شواهد او ثبوت وړاندې کړې، چې مصعب ابن عمیر رضي الله عنه د مدینې له خلکو د طلب النصرې غوښتنه کړې ده، ځکه موږ د سیرت له کتابونو او شیخ تقي الدین نبهاني د اسلامي نظام کتاب له لوستلو وروسته پوه شو، چې مصعب ابن عمیر خلک اسلام ته رابلل او موږ هغه څه نه دي لوستي، چې ګواکې ده د دین لپاره طلب النصره کړې وي. الله دې برکت درکړي، موږ او تا دې الله سبحانه و تعالی د اسلامي نظام په ژر راتګ سره یو ځای کړي.

**ځواب:**

وعلیکم سلام ورحمته الله وبرکاته

ستاسو دواړو پوښتنې سره ورته دي او ځواب یې په لاندې ډول دی:

۱- زه یادې پوښتنې حیران کړم، تاسې دواړه هغه ثبوتونه غواړئ چې مصعب رضي الله عنه په مدینه کې د طلب النصرې غوښتنه کوله، په داسې حال کې چې دی د جِهاد ورور له وینا سره سم په مدینه کې دعوتګر و! یا د عطیه ورور له پوښتنې سره سم یې خلک اسلام ته رابلل! ایا همداسې ده؟! ایا طلب النصره له دعوت سره توپیر لري؟ ایا طلب النصره اسلامي دعوت نه دی؟

یو دعوتګر خلک، د خلکو په منځ کې عامه رایه، د ځواک او دفاع څښتنان اسلام ته رابولي. مصعب ابن عمیر رضي الله عنه عام وګړي اسلام ته رابلل او د ځواک او دفاع څښتنان یې هم اسلام ته رابلل او هم یې ترې د طلب النصرې غوښتنه کوله. وروسته تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د پیاوړي او برلاسي الله سبحانه و تعالی له لوري امر وشو، چې طلب النصره وکړي. دی صلی الله علیه وسلم د ځواک او دفاع د خاوندانو قومي مشرانو ته ورغی او هغوی یې اسلام ته را وبلل. هغو مشرانو چې مثبت ځواب یې ورکاوه، نو ده صلی الله علیه وسلم به له نوموړو څخه د طلب النصرې غوښتنه کوله. که به قومي مشر د ځواک او دفاع څښتن نه و او له عامو خلکو څخه به و یا به یې قوم کوچنی و او ځواک او دفاع به یې نه درلوده، رسول الله صلی الله علیه وسلم به اسلام ته راباله او د طلب النصرې غوښتنه به یې نه ترې کوله.

۲- دغه کار د مصعب ابن عمیر رضي الله عنه و؛ چې ده د مدینې خلک اسلام ته رابلل، قرآن یې تر هغه مهاله تدریسوو چې اسلام خپور شي او مصعب به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ویل، چې اسلام هر کور ته لاره موندلې او د هر کور یو شمېر خلک په اسلام مشرف شوي دي، یعنې مسلمانان د شمېر له پلوه ډېر شوي دي. خو د ځواک او دفاع څښتنان د ګوتو په شمار دي: ۷۳ نارینه او دوې ښځې دي. کله چې مصعب رضي الله عنه وتوانید چې ملاتړ ترلاسه کړي، نو د بعثت په ۱۱ کال رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغی او هغه صلی الله علیه وسلم ته یې وړاندیز وکړ، چې د ځواک او دفاع خاوندان باید له تاسره د بعثت په ۱۲ کال ناسته وکړي، ترڅو دوی ته د طلب النصرې اړوند خپل شرطونه وړاندې کړې، ځکه دا کسان چمتو وو.

۳- زه هغه څه چې د اسلامي نظام په کتاب کې په دې تړاو ترې یادونه شوې، تاسو ته رانقلوم:

«... کله چې د حج موسم راغی، دی مکې ته ولاړ او د الله رسول ته یې یو ځل بیا په مدینه کې د مسلمانانو د شمېر په اړه، د دوی د ټوکېدونکي ځواک، د اسلام او په بېړه یې د خپریدو په اړه خبر ورکړ. دغه راز یې په مدینه کې د ټولنې د حالت په اړه او دا چې څرنګه خلک په مدینه کې د الله د رسول په اړه خبرې کوي او څرنګه اسلام هلته مرکزي ځای نیولی دی، په اړه هم څرګندونې وکړې. مصعب رضي الله عنه د مسلمانانو د پیاوړتیا او د دوی د ستر ځواک په اړه چې پر مټ یې اسلام په مدینه کې حاکمېدلی شي، خبرې اترې وکړې. ده همدا رنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د هغو مسلمانانو په اړه چې عقیده یې

پیاوړې شوې وه او د دعوت رسولو په موخه یې ټینګ هوډ درلود او د الله له دین څخه د دفاع لپاره تر پخوا ډېر ژمن و او په دې اړه چې په همدې روان کال کې به دوی مکې ته راشي، خبر ورکړ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د یادو خبرونو په اورېدو ډېر خوښ شو او پر دغو خبرو یې اوږد او جدي فکر وکړ او د مکې ټولنه یې له مدینې سره پرتله کړه. ده صلی الله علیه وسلم په مکه کې د دین د دعوت په موخه پرله پسې ۱۲ کاله تېر کړل، له خپلو ټولو هڅو یې کار واخیست، په دې لاره کې یې خپل ټول وخت قرباني کړ، هیڅ موکه یې له لاسه ور نه کړه، بېلا بېلې سختی، کړاوونه او ظلمونه یې وګالل. پر دې ټولو سربېره د مکې ټولنه هم هغسې سرټمبه پاتې وه او دعوت پکې هیڅ کار ور نه کړ. خو په مدینه کې حالاتو توپیر درلود، د یوه کال په تېرېدو سره د خزرج یوې ډلې اسلام قبول کړ، چې په ترڅ کې یې د عقبې لومړی تړون رامنځته شو. تر دې کال وروسته د مصعب ابن عمیر رضي الله عنه هڅو په مدینه کې اسلامي فضا رامنځته کړه او د خلکو لپاره یې لاره هواره کړه، ترڅو په بې سارې توګه اسلام ته دننه شي».

۴- لکه څرنګه چې وینو، له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ځواک او دفاع څښتنانو له لیدو کتو څخه وړاندې، مصعب رضي الله عنه مکې ته ولاړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې په مدینه کې د اسلام د خپرېدو په تړاو خبر ورکړ او د الله رسول ته یې وویل، چې په یادو خلکو کې د ځواک او دفاع څښتنان غواړي په راتلونکي کال کې له تا سره ووینې، ترڅو دوی ته خپل شرطونه وړاندې کړي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هغه څه چې مصعب وویل خوښ شو او ده صلی الله علیه وسلم ومنله چې راتلونکی کال به له دوی سره لیده کاته کوي. دا هغه څه دي چې پېښ شول او راتلونکی کال دوی راغلل. د بعثت ۱۲ کال و او په ترڅ کې یې د عقبې دویم تړون رامنځته شو.

۵- اوس موږ د اسلامي نظام له کتاب څخه لاندې متن را اخلو: «ځکه د الله رسول د حاجیانو راتګ ته په تمه و. دا د دعوت ۱۲ کال و، چې له ٦٢٢ میلادي کال سره یې سمون درلود. حاجیان ډېر وو چې له دوی څخه ۷۵ مسلمانان (۷۳ نارینه او ۲ ښځې) وې. له ښځو څخه یوه نوصیبه بنت کعب اماره له بنو مازین ابن النجار او بله اسما بنت عمرو ابن عدی له بنو سلمه وه او په ام مانې سره هم مشهوره وه چې په یاده ډله کې یې ګډون درلود... د الله رسول له دوی سره په پټه وکتل... او دوی په دې ناسته کې ژمنه وکړه، چې له ده صلی الله علیه وسلم سره به په عقبه کې د تشریق د ورځو په ترڅ کې ناسته کوي. ده صلی الله علیه وسلم دوی ته وویل: «هیڅوک مه خبروئ او مه هغه چاته په تمه کېږئ چې حاضر نه وي». کله چې د شپې دریمه برخه تېره شوه، دوی د دوو ښځو په ګډون د الله له رسول صلی الله علیه وسلم سره د لیدو لپاره په پټه عقبې ته ولاړل... دوی د الله رسول ته په تمه و، تر هغې چې هغه صلی الله علیه وسلم راغی، دوی وویل، ته اوس موږ ته خپله وینا وکړه، اې د الله رسوله! د ځان او د خپل رب لپاره هغه څه غوره کړه چې ته یې غواړې». رسول الله صلی الله علیه وسلم د قران کریم تر تلاوت او اسلام تر ستایلو وروسته خبرې وکړې او ویې ویل:

**«أبایعکم علی أن تمنعوني مما تمنعون منه نساءکم وأبناءکم»**

«زه تاسو داسې بیعت ته رابولم چې زما ساتنه به داسې کوی، لکه څرنګه چې یې د خپلو مېرمنو او ماشومانو کوی».

البرا خپل لاس د بیعت لپاره پورته کړ او ویې ویل: « اې د الله رسوله، موږ له تا سره بیعت کوو، په الله قسم موږ جنګیالي یو او وسلې لرو چې له خپلو پلرونو څخه را پاتې دي...». دوی وویل، چې موږ د الله د رسول صلی الله علیه وسلم له لوري دغو شرطونو ته غاړه

ږدو او وروسته يې وپوښتل: « اې د الله رسوله، زموږ د وفادارۍ په بدله کې څه شته؟» د الله رسول صلی الله علیه وسلم په ډاډ سره ورته وويل، (جنت) دی».

**له پورته بيان څخه لاندې موضوعات په ډاګه شول:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت په لسم کال د عقبې له لومړي تړون څخه وروسته مصعب رضي الله عنه له ۱۲ تنو سره مدينې ته ولېږه. ده رضی الله عنه په مدينه کې خلک، د ځواک او دفاع د څښتنانو په ګډون اسلام ته را وبلل، د ځواک او دفاع له څښتنانو څخه يې د الله سبحانه و تعالی د دين لپاره د طلب النصرۍ غوښتنه وکړه. مصعب د بعثت په يوولسم کال مکې ته ولاړ او پېغمبر صلی الله علیه وسلم يې د مدينې له حالت څخه خبر کړ. ده همدا رنګه د اسلام خپرېدنه، د ځواک او دفاع څښتنانو حالت او د دوی چمتووالی، چې له پېغمبر صلی الله علیه وسلم سره به د بعثت په دولسم کال کې ناسته کوي، ترڅو پيغمبر صلی الله علیه وسلم د دين د بري لپاره خپل شرطونه ورته وړاندې کړي.

پيغمبر صلی الله علیه وسلم په مدينه کې د مصعب له کار څخه راضي شو، د ده چارې ورته د منلو وړ وې او دی صلی الله علیه وسلم په هغو پايلو چې د الله سبحانه و تعالی په اراده لاس ته راغلې وې، ډېر خوښ شو. نو پر همدې اساس د بعثت په دولسم کال د ۷۳ نارينه و او د ۲ ښځو په ګډون د عقبې دويم تړون رامنځ ته شو، وروسته هجرت او بيا د دولت تاسيس پيل شو.

پر همدې بنسټ په مدينه کې د طلب النصرۍ په لاره کې د مصعب رضي الله عنه چارې يو بنسټيز ستون جوړوي. الله سبحانه و تعالی د ځواک او دفاع څښتنانو پر مټ د خپل دين د ملاتړ لپاره برى رامنځته کړ. زه يو ځلې بيا هغه څه تکراروم چې مصعب رضي الله عنه پيغمبر صلی الله علیه وسلم ته وويل: «مصعب د مسلمانانو د پياوړتيا او د دوی د ستر ځواک په اړه، چې پر مټ يې اسلام په مدينه کې حاکم کېدلی شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر کړ. ده همدا رنګه د مسلمانانو په اړه چې عقيده يې پياوړې شوې وه، د دعوت د رسولو په موخه د دوی له ټينګ هوډ څخه او تر ټولو د الله له دين څخه د دفاع په اړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خبر ورکړ».

الله سبحانه و تعالی پر مصعب رضي الله عنه ولورېد او ور څخه راضي شو، ده ته يې لويه بريا ورپه برخه کړه او دغه بريا د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره د عقبې د دويم تړون د رامنځته کېدو، د هجرت د پيل او دولت د تاسيس لامل شوه. ټوله ستاينه هغه الله لره ده، چې د نړۍ پالوونکی دی.

ان‌شاء الله همدومره به بس وي

**ستاسې ورور عطا بن خليل ابو الرشته**

**پوښتونکي: جهاد جهاد او عطيه الجبرين**

**ژباړن: صديق احمدزی**

**۱۴۳۹ هـق، د ذوالحجې ۱۸ مه**

**۲۰۱۸ م، د اګسټ ۲۹ مه**